افسانه

# زړونه په چاؤدنه چوي

طاهر اپریدے

هغهٔ غسل خانې کښې لمبلو نه پس نوے سوټ واغوستو اوکمرې ته بهر راووتو اوکمره کښې جوړې الماری نه ئې د فرانسیسي پرفیوم اسپرې راواخستله او په سینه او دواړو اوږو ئې یو "پش" وکړو او د ګېراج نه ئې نوے او ډېر ښکلے موټر راووېستو. دغه موټر هغهٔ اوس اوس اخستے وۀ. د دې نوي او ښکلي موټر دپاره دومره ډېرې روپۍ چرته نه راغلې وې؟ نو د هغهٔ خپل خیال او نظریه دا وه چې څوک دولت ګټل غواړي نو هغه ډېر سوچونه نهٔ کوي. هغهٔ موټردکورد دروازې نه هم بهر راووېستو او د موټر دکیڼ اړخ دروازه ئې خپل خیالي او تصوراتي ملګرې ته ښېرته کړه. دغه خیالي او تصوراتي ملګرے د هغهٔ یو داسې ملګرے وۀ چې نۀ هغهٔ ته مجسم ښکاریدۀ او نۀ بل چا ته په نظر راتلو خو عجیبه خبره وه چې دا ملګرے به لکه د سېورې هر وخت هغهٔ سره وۀ او دغه هر وخت ملګرتیا کښې به کله چې هغه دکار روزګار نه فارغ شو نو به دغه ملګرے ورسره خبرو ته ایله وزګار شو خو دغه وخت به هغه د خوب جادوګرۍ په خپله غېږه کښې واخستو او د ملګري خبرو ته به ئې نۀ پرېښودو ـ هغهٔ د ملګري د ناستې نه پس په پاسنۍ شیشه کښې په دوېم ځل خپل مخ او ږهرې ته وکتل او د خپلې سراپا جائزه ئې واخستله د تندي دپاسه ئې راکاږۀ وېښتۀ په یولاس سم کړل او د قمیص غاړه ئې په دووؤ ګوتو برابره کړه او موټر ئې دکوټې نه د لوئے سړک په لور دومره په تېزۍ اوچت کړو چې د دې نوي نوزي موټر دپایو نه شین لوګے پورته شو او دې ځلورو واړو پایو یوه داسې فریادي چغه وکړه لکه چرته چاؤدنه کښې یو پښې لاس پرېکړے چې کړیکه وکړي.

"دا تاته چا وئیلي دي چې د حرامې ګټې برکت نۀ وي او د ظالم یا د بل په وینو ګټه کوونکي سکون و قرار ورک وي؟" د هغهٔ په ژبه د ماضي د نېستمن وخت تریخ یاد یو اواز جوړ شو او هغهٔ د ماضي د دغه یاد خبره خپل څنګ ته ناست خیالي ملګري ته وکړه.

" کۀ ما هغه وخت هغه منصوبه نۀ وه جوړه کړې او ما خپل ذهن نه کار نۀ وے اخستے او د جائز ناجائز، د حلال حرام په خوشي چکرکښې پرېوتے وے نو نن به زما دغه مزې چرچې نۀ وې.،، هغهٔ یو ځل بیا ملګري ته مخ واړولو او یوه سترګه ئې په شرارتي انداز کښې ووهله او کنه ښۀ وایم داسې کارونو ته عقل، ذهن او زړۀ پکار وي "خو ملګري ئې هیڅ جواب ورنۀ کړو او هغهٔ د موټر د ټېپ یو بټن تاؤکړو او د خپلې خوښې سندرې په اورېدو ئې وروځې وچتې کړې او سر ئې د موسیقۍ په ساز او

اواز ورو ورو خوځولو ـ " وائي چې هرکس ته قدرت په ژوندکښې يوه يوه موقع خامخا ورکوي خو ځوک د عقل نه پاک وي، ځوک پوهه نۀ شي، ځوک د حلال حرام او جائز ناجائز په چکر کښې پرېوځي او ځوک لکه زما د عقل او ذهن نه کار واخلي او دغه موقعه راټينګه کړي او بيا ټول عمر عېش او مزې کوي، کۀ زۀ هغه وخت د جائز ناجائز اوګومګو په چکرکښې پرېوتے وے نو نن به دغه ارت لوئے کور، دغه نوے ښکلے موټراو دغه ډېرکاروبار، جائداد او دغه سهولتونه هيڅ نۀ وو او زما ژوند به هم د هغه مخامخ خوار و زبون مزدور نه کم نۀ وۀ "هغۀ ځنګ ته تصوراتي ملګري ته خبره وکړه ـ خو ملګري ئې د نورکله غوندې غلے چپ ناست وۀ .

"زۀ ښۀ پوهېږم چې تۀ به د شپې د خوب په وخت زما تنګولو دپاره زما د دې ټولو خبرو يو يو جواب په دليل سره راکوې او زما د کار او عمل مخالفت به کوې ـ خو زۀ بيا هم ستا سره يارانه کوم اوتا سره ملګرتيا لرم واقعي زۀ کم عقل يم " هغۀ لکه د ملګري د هغې خبرې تائيد کړے ؤ کومه چې هغۀ لا کړې هم نۀ وه هغۀ د موټر د پايو لاندې تښتېدونکي تورتارکولي سړک ته داسې کتل لکه هغه په خپل عقل، ذهانت اوهوښيارۍ ډېر ناز فخراو غرور کوي او دا ضمير د څۀ بلا نوم دے." هغۀ ملګري ته داسې رنګ نېغ وکتل لکه په هغۀ د طنز دکاڼي ګزارکوي ـ " زۀ ضمير اول خو د سره هډومنم نا ـدا يو تش خيالي شے دے چې هيڅ وجود نۀ لري لکه څۀ رنګ چې تۀ هيڅ وجود نۀ لرې.

او کۀ فرض کړو څۀ شے وي نوهم دا به د هغو خلقو وي چې نۀ عقل لري، نۀ پوهه لري، نۀ موقع شناسي پېژني او نۀ ورکښې همت او ډاډ وي ـ زۀ د داسې فرضي شي سخته غندنه کوم" هغۀ دا ځل ملګري ته ونۀ کتل او خپله خبره ئې سر ته ورسوله. کوم وخت چې هغۀ ته څۀ ډېر د سرو شنو نوټونو بنډلونه ورکړې شوي وو يا په لاس ورغلي وو نو دۀ هم هغه وخت دا د هغۀ عادت جوړ شوے وۀ چې هغۀ به د دې خيالي او تصوراتي ملګري سره څۀ ډېرې ښکاره او پټې خبرې کولې او دا به ئې کوشش وۀ چې هغه خپل دغه خيالي ملګرے په دليلونو په ثبوتونو پړکړي او هغه لاجوابه کړي. خو د هغۀ ملګري به د هغۀ ډېرو دليلونو ثبوتونو په جواب کښې يو رپ قدرې هم نۀ کولو خو هرکله به چې هغه د ماسخوتن په کټ څملاستو نو دغه په نظر نۀ راتلونکي ملګري به ئې لکه چې رابېدار شوے وي او چې هغه به د ملګري په خبرو لاجوابه شو نو اخري خبره به ئې ورته دا وکړه چې "اشنا! چې چا موقع وبائلله نو هغۀ ژوند وبائيلو او چې چا ژوند وبائيلو نو هغۀ ته بيا د ژوند هيڅ حق نشته " او دې سره به ئې يو لوئے ارګمے وکړو او مخ به ئې د ملګري نه په بله واړولو. هغۀ د لوئے چوک د برقي سګنل د سرې اشارې سره موټرکېنې اړخ ته دومره په زوره او تېزۍ تاؤکړو چې د موټر د څلورو واړو پايو نه يو ځل بيا ژوبل غوندې فرياد پورته شو او د هغۀ سترګې مخامخ لور ته پورته شوې اوهم دغه وخت د هغۀ ذهن کښې يو داسې درز شو چې کۀ هغۀ د موټر سټېرنګ کلک نۀ وے نيولےاو په حواسو ئې د اول نه قابونۀ وے لرلے نو يوه لويه حادثه هم کېدې شوه. هغۀ موټر د سړک غاړې يو لور ته ودرولو او د سړک په غاړه ولاړوګورو لوړو دنګو ونو ته ئې حېران حېران وکتل. هغۀ ته د سړک په غاړه ولاړې ټولې ګُورې او په ګڼو شنو پاڼو ډکې ټولې ونې

داسې بربنډې وښکارېدې لکه چا ناترسه ظالمانو ترېنه د تکو شنو پاڼو ټولې جامې په زوره وېستلې وي، یا د بارودو په اور سوزولې شوې وي او چې هغهٔ د بربنډو ونو عریاني محسوس کړه نوسترګې ئې په بله واړولې. خو هلته یو بل منظر د هغهٔ مخې ته شو. هلته هغهٔ یو داسې کس ولیدو چې دواړه لاســـونه دواړه پښې او تن دپاسه سر ئې لکه چرته په یوه چاؤدنه کښې الوتے وي او اوس په وینو سره تشه تنه په مخه زغلېدو ورپسې یو بل کس هم په هغه مخه زغلېدو. هغې کس خپل دواړه پرې کړې لاسونه د حالاتو په نېزو ټومبلې د چا بابا په مزار ولاړو د جنډو په شان اوچت راختستي وو او هغهٔ په دغه غوڅو او په نېزو ټومبلو لاسونو د وخت د ظالمانو، د غرض دېوتاګانو خلاف احتجاجي چغې وهلې اوفریاد ئې کولو. یوبل دربم کس هم خپله پرېکړې شوې ژبه لاس کښې نیولې وه او په ماته خُلهٔ او پرېکړې ژبه ئې فریاد او احتجاج کولو. یوې ځوانې جانې ښځې د خپل اولني بچي د وجود ټولې ټکړې په دواړو منګلو کښې راټولې کړې وې او چغې ئې وهلې. "زما تنکےماشوم بچے اوس هم ژوندے دے. هغه په بم نهٔ دے الوتے. هغه اودهٔ دے تاسو، یه خلقه تاسو راشئ او په خپلوسترګو زما د ایکي یو بچي نندارہ وُکړئ، راشئ زما بچے ..." د هغې ځوانې ښځې چې په یو مخ په زوره زوره چغو ژړا، نعرو حلق، مرۍ او ژبه اوچ او سپور شو



نود اسمان سینه شلوونکي غږ ئې تت او بیا غلے شو خو هم دغه وخت یو چا همدرد غوندې کس ورته د اوبو ډک ګلاس راوړو او د هغې تر شونډو پورې ئې یوړو. هغې ځوانې جانې ښځې دغه اوبهٔ داسې په یو غړپ وڅښلې لکه د هاړ د اوږدې ورځې په سره غرمه ئې روږه ساتلې وی او چې حلق مرۍ ئې لږ تازه شو نو زړونه چوونکې نعرې ئې بیا جوړې کړې "زما بچے، زما د ګل په شان ښائسته بچے مړ نهٔ دے، هغه شهید دے او شهید تل تر تله ژوندے وي. زما بچے مړ نهٔ دے" کم عقلې او بېوقوفې ښځې هسې بې ځایه چغې سورې خله وهې. ستا بچے ژوندے دے کهٔ مړ دے اوکهٔ شهید دے د دې نه اوس څهٔ فائده! اصل خبره دا ده چې ستا د بچي د غوښو، هډوکو او سرو وینو قیمت به څومره ادا کړے شوے وي او څومره به اخستے شوے وي او اوس به ستا د بچي د ټکړې ټکړې وجود تاته څومره معاوضه درکولے کېږي" هغهٔ د ښځې نه مخ خپل څنګ ته ناست ملګري لور ته واړولو او هغهٔ ته ئې داسې شان وکتل لکه ډېره د عقل خبره ئې هغه ملګري ته کړې وي. لږ ساعت دمې نه پس چې د هغهٔ حواس قابو شو نو موټر ئې بیا روان کړو "پنځوس زره، یو لک یا ددې نه هم زیاتې؟ خو نا ستا بچے ډېر ماشوم وُ او د وخت حاکمان دومره وس نهٔ لري نو چې پنځوس زره درکړي نو هم شکر وباسه. غریبه ښځه ئې هسې دې

هم د تپوس ځوک نشته" هغهٔ ځان سره د هغې بُورې مور د بچې د غوښو هډوکو تول په سکو کښې د خودکلامۍ انداز کښې وکړو او چې هغهٔ موټر هغه لور ته واړولو چرته چې د لوړې درجې او تر ټولو نه زیات فیس اخستونکي ماډل سکولؤ او د هغهٔ دواړو بچو پکښې سبق وئیلو نو هغهٔ په غوږونو واوریدل او په سترګوئې ولیدل چې د لوړو بلډنګونو په اخوا د لوئې او ډیر مصروف سړک په غاړه یو درز وشواو دې درز سره د سړک د لوري تور شنهٔ او خړ لوګي پورته شو.

"یوه بله چاؤدنه، یو بل درز" د هغهٔ په شونډو نرۍ غوندې مسکا خوره شوه " چې د دې چاؤدنې به څومره معاوضه ورکړې شوې وي. دا خو ډیر مصروف او ګڼ بازار او سړک دے " هغهٔ ځان سره ځنګ ته تصوراتي ملګري سره یو ځل بیا په سکو کښې حساب راواخستو او د لوګو، ګردونو، لوخړو د پولیس او هسپتالونو د ایمبولنسونو تنداري دپاره هغهٔ موټر یو خوا ته ودرولو او د پورته کیدونکو ګردونو، لوګو او لوخړو په لور ئې وکتل نو په زړهٔ کښې ئې څهٔ شک غوندې راپورته شو.

"دغه چاؤدنه چرته او هم دغه ساعت د هغهٔ موبائل یو سندریزه شان کړنګ وکړو "هیلو" هغهٔ موبائل غوږ ته نیولو سره ووې او د موټر دروازه ئې ببرته کړه او د موټر نه بهر راووتو خو موبائل ئې دلاسه داسې په هیبت پریوتو چې زمکې ته رسیدو سره دوه ټوټې شو.



"د چا د زړهٔ غوندې" په هغهٔ یو داسې چکر راغلو چې په سترګو ئې هم توره تیارهٔ جوړه شوله او هغهٔ داسې محسوس کړه لکه په دې ښارکښې تر اوسه په ټولو چاؤدنو، درزونوکښې لاس پښې سرونه پرېکړے شوی ټول مړي او ټول ژوبل په یوځائے راغلي وي او د هغهٔ نه ګېر چاپېر ودریدلي وي او د هغهٔ نه د خپلو سرونو، لاسونو، پښو، ماتو ګوډو اندامونو، سوری سوری غلبیل غلبیل سینو او د خپلو وران شویو کورونو او د خپلو سرو وینو تاوان غواړي. هغه د دې انساني بلاګانو په مېنځ کښې بې وسه ګېر پروت وهٔ او په ډیرې بې وسۍ ئې هغه انساني بلاګانو ته کتل چې د هغهٔ په احساس ئې نوکارې ښخولې او چې څهٔ لاره ګودر ورمعلوم نهٔ شو نو په عاجزۍ ئې خپل د څنګ ملګري ته داسې وکتل لکه څهٔ مرسته مدد تري نه غواړي خو د هغهٔ ملګرے په وړومبي ځل په زوره زوره خندیدو. بیا لږ ساعت خندا نه پس ئې ملګري په سنجیده او غمګینه لهجه کښې ووې "کاشکي تا پردے بچے هم د چا د زړهٔ ټکړه ګڼلے وٗ."

"لکه ستا دې داسې ځان دے د بل چا" دا ځل چاؤدنه د هغې ماډل سکول دننه شوې وه چرته چې د هغهٔ بچو سبق وئیلو.